مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۶/۱۰

# د افغانستان او روسيې ترمينځ نظامي او تخنيکي تړون

## (دويمه او وروستۍبرخه)

دافغانستان جيوپوليتيک، جيوستراتيژيک موقيعيت او جيو اقتصادي اهميت تل د نړيوالو زبرځواکو قدرتونو پاملرنه دې لور ته را اړولې ده، تر مقدوني سکندر نه را نيولې بيا تر امريکا پورې له خپل هر ډول زور او طاقت نه کار واخيست تر څو د اسيا په زړه کې دغه کوچنی اما د غرور، حماسو او افغاني غيرت نه ډک پياوړي هېواد په دغه حساس موقيعيت کې د خپلو ستراتيژيک موخو د عملي کولو له پاره د دايمي مستعمرې په توګه وساتي، خو باتورو افغانانو د سترو قربانيو او سربښندنو له لارې دغو متجاوزو استعمارګرو ته تل غاښ ماتونکی ځواب ورکړی او په ډېره بې شرمی يې له هېواده تيښتي ته اړويستي دي .

پخواني شوروي اتحاد هم څه د پاسه لس کاله خپل استعماري طاقت و ازمايه، چې په نتيجه کې نه يوازې دا چې خپلو بې شرمانه موخو ته ورسيد، بلکې دړې وړې شو او يوازې اوسنۍ روسيه ورپاتې شوه، غواړم د هېواد په تېرو حوادثو لنډه تبصره وکړم .

په ۱۹۷۰مو کلونو کې په افغانستان کې شاهي نظام ړنګ د سردار محمد داود تر مشرۍ جمهوري نظام او بيا ترې را وروسته په ۱۳۵۷ کال کې د ثور د نظامي پاڅون له لارې خلقي نظام رامنځته شو، وليدل شول چې د يو لنډې مودې وروسته شوروي اتحاد د خپل يو ګوډاګي نظام د راوستلو په خاطر پر افغانستان يرغل وکړ، چې په نتيجه کې سياسي کړکيچ مخ پر زياتيدو شو. کورني اختلافات زيات شول. همدغه وضعيت د بهرنيو قدرتونو له پاره په خاص ډول امريکا ته د لاسوهنې زمينه برابره کړه .

د ۱۹۷۹ کال په ډسمبر کې د شوروي اتحاد د مداخلې موخه دا وه چې، د خپل د خوښې له ګوډاګي حکومت نه ملاتړوکړي او افغانستان د تل له پاره د خپل د نفوذ د ساحې په توګه وساتي، او هم يې غوښتل چې د امريکا اغېز په دغه سيمه کې محدود کړي .

لکه چې د مخه هم ورته اشاره وشوه د شوروي د ماتې وروسته پر افغانستان يو ستر بحران حاکم شو، تنظيمي غوبل پر هېواد تور جال وغوړاوه، د دغه غوبل مشرانو په خاص ډول شورای نظار، بحران الدين رباني، احمد شاه مسعود د هېواد ټول مادي او معنوي ارزښتونه له خاورو سره خاورې کړل، د هېواد هغه پياوړې اردو چې د امير شيرعلی خان له وخت جوړه شوې او په سيمه کې يې سارې نه درلود له مينځه ويوړه او هر څه يې له پاکستان سره د يوه بې شرمانه قرارداد په امضا کولو سره تالا والا کړل او هېواد د يو ستر بحران قرباني شو .

په همدې بحراني حالت کې طالبان راڅرګند شول. هغوی په ځينو سيمو کې امنيت ټينګ کړ، خپل حکومت يې جوړ کړ او سخت قوانين يې نافذ کړل، داسې چارې يې تر سره کړې چې امريکا ته يې د بربنډ تجاوز پلمه پر لاس ورکړه .

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱مې پيښې وروسته، امريکا پر افغانستان بريد وکړ. د دې جګړې اعلان شوې موخه، د بنې حکمتولۍ ټينګول، ترهګرۍ پر ضد مبارزه او د القاعدې او طالبانو له منځه وړل وو. چې په دغه جګړه کې له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

امریکا سره بریتانیا، جرمني، فرانسه او نورد ناټو غړوهېوادونه هم شریک وو. دوي هوايي بریدونه وکړل، ځمکني ځواکونه یې ولېږل او د نوي حکومت د جوړولو هڅه یې وکړه .

دا جګړه نږدې شل کاله روانه وه. په دې موده کې د طالبانو او امریکایي ځواکونو ترمنځ سختې نښتې وشوې، زرګونه کسان ووژل شول او هېواد له اوږدې بې‌ثباتۍ سره مخ شو .

یوه خبره چې لکه لمر روښانه ده، هغه دا ده ،چې امریکایانو هیڅکله و نه غوښتل چې د افغانستان په اردو یا مسلحو قوواو کې هوايي ځواک جوړ او پیاوړي کړي .

د ۲۰۲۱ کال په اګست کې امریکا ماته او خپل پوځونه یې له افغانستانه وویستل، چې د وتلو سره سم یې پر یوه ستر جنایت لاس پورې کړ، هغه دا چې ټول نظامي او هوايي سیستمونه یې د رادار په شمول له مینځه یوړل. چې د امریکایانو له وتلو وروسته طالبانو یو ځل بیا د افغانستان واکمني په داسې یوه وضعیت کې تر لاسه کړه.چې نه نظام، نه اردو او نه مالي او اقتصادي سیستم وجود درلود .

لیدل کېږي چې طالبانو څه د پاسه پنځه کاله له ګنو ستونزو سره سره پر افغانستان د خپل حکومت د ټینګولو او هیوادوالو ته د خدمتونو د برابرولو په چارو بوخت دي، چې تر څنګ یې له بیلا بیلو کورنیو او بهرنیو ننګونو سره لاس او ګریوان هم دي .

په داسې یوه بحراني وضعیت کې وار وار، د امریکا جمهور رئیس ټرامپ له امریکا نه د پاتې شوو وسلو د استرداد او د بګرام د هوايي اډې د بیرته تر لاسه کولو وړاندیز او ګوت ځنډني وکړي، چې د طالبانو د منفي ځواب سره مخ شوي. ولې بیا هم لیدل کېږي چې پاکستان د امریکا په لمسون د ټي ټي پي د وسلوالو شتون په افغانستان کې د یوې بهانې په توګه مګر په اصل کې د امریکا په لمسون څو واره زموږ د ګران هېواد افغانستان هوايي حریم نقض کړ او د هېواد پر ځینو ولایاتونو یې  د کابل په شمول هوايي بریدونه تر سره کړل، چې په دغو بریدونو کې په سلګونه ملکي بیګناه انسانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ، که چیرې هېواد هوايي ځواک، رادار سیستمونه درلوداي پاکستان هیڅکله دا جرئت نه شو کولای چې د هېواد هوايي حریم نقض کړي .

پورتنیو لاملونو طالبان دې ته اړویستل چې د وسلوال ځواک د پیاوړتیا، هوايي سیستمونو، رادار او نورو اړینوبرخو ته د لاس رسي په خاطر له روسیې سره نظامي، تخنیکي، امنیتي تړون لاسلیک کړي.په دې کې شک نه شته چې د دغه قرارداد له امله به د سیمې او نړۍ یو شمېر هېوادونو ته اندیښنې په برخه شي، نو ځکه په دغه رابطه د طالبانو د دفاع وزیر محمدیعقوب مجاهد اعلان وکړ، چې د دې ډلې او روسیې ترمنځ وروستۍ هوکړه‌لیک د پوځي ـ تخنیکي همکاریو یو سند دی او دفاعي یا امنیتي اړخ نه لري .
هغه ټینګار وکړ چې د پوځي چارو پوهان پر دې موضوع ښه پوهېږي او هېڅ لوری باید په دې اړه اندېښنه ونه لري، ځکه دا هوکړه‌لیک یوازې د افغانستان په ګټه دی. نوموړي دا څرګندونې له مسکو څخه تر راستنېدو وروسته او د کابل او کرملین ترمنځ د نویو پوځي اړیکو د څرنګوالي په اړه د پراخو اټکلونو په تعقیب کړې دي .

د طالبانو د دفاع وزیر افغانستان د پوځي بنسټیزو جوړښتونو د بیارغونې جدي اړتیا ته په اشارې سره، زیاته کړه چې په هېواد کې د روسیې او پخواني شوروي اتحاد د جوړو شویو پراخو پوځي تجهیزاتو شتون د دې هوکړې اصلي لامل دی .

د هغه په وینا، بېلابېل ډوله چورلکې، جنګي او ترانسپورټي الوتکې، ډول ډول وسلې او هغه تجهیزات چې ترمیم، ساتنې او پراختیا ته اړتیا لري، د روسیې تولیدات دي. هغه څرګنده کړه چې د دې پوځي ماشین د فعال ساتلو له پاره له تولیدوونکي هېواد سره هوکړه اړینه وه او له همدې امله د طالبانو اداري خپله لومړنۍ هوکړه لیک له روسیې سره لاسلیک کړ .

د معلوماتو له مخې، د طالبانو تر کنټرول لاندې د پوځي وسلو لویه برخه روسي وسلې جوړوي، چې د شوروي اتحاد د جګړې له دورې، د پخواني ملي اردو له زېرمو او د وسلو له قاچاق څخه پاتې دي .
په دغو تجهیزاتو کې سپکې وسلې لکه کلاشینکوف اوټوپکونه، د پلي ځواکونو درنې وسلې، آرپي‌جي-۷ راکټ توغندي، د ډي-۳۰ ډوله ۱۲۲ ملي‌متري صحرايي توپونه او د لېرد وړ هوايي دفاعي سیستمونه شامل دي. همدارنګه بي‌ایم‌پي-۱ او بي‌ایم‌پي-۲زغرهوال موټر، ټي-۵۵ او ټي-۶۲ ټانکونه، د ایمای-۸ او ایمای-۱۷ترانسپورټي چورلکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترڅنګ د ایمای-۲۴جنګي چورلکې، په افغانستان کې له مهمو روسي تجهیزاتو څخه دي چې اوس پرزو او تخنیکي ترمیم ته اړتیا لري .

د طالبانو او روسیې ترمنځ د دې پوځي او تخنیکي هوکړهلیک لاسلیک په داسې حال کې ترسره کېږي چې مسکو په وروستیو میاشتو کې په سیمهییزه ډیپلوماسۍ کې لا فعال رول خپل کړی دی .

د طالبانو د دفاع وزیر له مسکو څخه تر راستنېدو وروسته ادعا وکړه چې په راتلونکو ورځو کې د دې هوکړهلیک د عملي چارو له پیل سره به ګاونډي هېوادونه نور د افغانستان د خاورې پر ضد د پوځي اقدام جرئت ونه کړي. دغه هوکړهلیک، چې په مسکو کې د روسیې د ملي امنیت شورا د منشي په حضور کې وروستی شو، په مرکزي اسیا او افغانستان کې د خپل نفوذ د پیاوړتیا لپاره د کرملین د هڅو په اړه ګڼ اټکلونه راپارولي دي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ